امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و ارتباط عامه



# هفته نامه مدیریت حوادث

۴ الی ۹ حوت ۱۴۰۳

## شماره نودو هفتم

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د کوړ اېډ موسسې ترمنځ د ۲،۳۷۵،۸۹۸ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو درې تفاهم نامې لاسلیک شوې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، د کوړ اېډ مؤسسې له رئیس، سید لطیف بشردوست، د پروژې مسئول، انجنیر میرویس وردګ او د اړیکو مسئول، عبدالمنصور ابراهیم‌خیل سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۷ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامې یې ورسره لاسلیک کړې.

په دې ناسته کې، ترابی صاحب راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې زموږ د دندې او ایمانی مسئولیت له مخې، د ټولنې تر ټولو زیانمنو قشرونو ته رسېدنه زموږ له مهمو لومړیتوبونو څخه دی...

ادامه در صفحه۲

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوراک نړیوال سازمان (WFP) ترمنځ د ګډو همکاریو په اړه تخنیکی غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوراک نړیوال سازمان ترمنځ د ګډو همکاریو په اړه د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۷ نیټه تخنیکی غونډه، د یادې ادارې د کارکوونکو چارو رئیس؛ الحاج مولوی محمد عابد نعمانی، د پلان او پالیسۍ...

ادامه در صفحه۳

### له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د بېړنۍ سرپناه او غیرخوراکی مرستو د کلستر له پلاوی سره وکتل



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی، د IOM دفتر د کلستر همغږی کوونکې ساوسن سعد، د UNHCR دفتر د کلستر همغږی کوونکې آریرین موتیف، او د IOM دفتر د کلستر مرستیال محمد...

ادامه در صفحه۴

### ورستیو سېلاب ځپلو ته د کومک رسېدنې په موخه بېړنۍ غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی دهیواد په کچه دملی او نړیوالو اړونده موسسو مسولین او استازی دعاجلی بیړنی غوندی لپاره راوغوښتل او د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نیټه...

ادامه در صفحه ۵

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د کورډ ایډ موسسې ترمنځ د ۲,۳۷۵,۸۹۸ ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو درې تفاهم نامې لاسلیک شوې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی، د کورډ ایډ مؤسسې له رئیس، سید لطیف بشردوست، د پروژې مسئول، انجنیر میرویس وردګ او د اړیکو مسئول، عبدالمنصور ابراهیم‌خېل سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۷ نیټه په خپل کاری دفتر کې وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامې یې ورسره لاسلیک کړې.

په دې ناسته کې، ترابی صاحب راغلی پلاوی ته د ښه راغلاست ترڅنګ وویل چې زموږ د دندې او ایمانی مسئولیت له مخې، د ټولنې تر ټولو زیانمنو قشرونو ته رسېدنه زموږ له مهمو لومړیتوبونو څخه دی. له همدې امله، موږ د موسسو لپاره د ټولو اسانتیاوو برابرولو او له هغوی سره همکاریو ته ژمن یو او د هغوی چارې به ژر تر ژره ترسره کړو. همداراز، موږ له موسسو غواړو چې خپل کارونه په شفاف ډول او په چټکۍ سره ترسره کړی.

ورپسې، د کورډ ایډ مؤسسې رئیس، سید لطیف بشردوست، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست څخه د مننې ترڅنګ وویل چې یادې موسسې له ۲۰۰۱ کال راهیسې د روغتیا، کرنې، بشری مرستو، او پراختیایی برخو کې فعالیت کړی دی. هغه د خپلو روانو پروژو یادونه وکړه او زیاته یې کړه چې درې پروژې، چې ټولټال ارزښت یې ۲,۳۷۵,۸۹۸ امریکایی ډالر دی، د UN_OCHA دفتر او دCaritas Germany موسسې په مالی ملاتړ د ۱۱,۱۵۵ کورنیو لپاره په هرات او تخار ولایتونو کې د نغدی او غیرنغدی مرستو د وېش په توګه پلی کېږی.

لومړۍ تفاهم‌نامه:

د دې تفاهم‌نامې له مخې، د کورډ ایډ موسسه به د ۳۹۵,۴۱۲ امریکایی ډالرو په ارزښت، د تخار ولایت په ینګی‌قلعه، چاه‌آب، او چال ولسوالیو کې ۱۶۸۹ کورنیو ته، په څلورو قسطونو کې، هرې کورنۍ ته ۱۷۰ امریکایی ډالر ووېشی.


دویمه تفاهم‌نامه:

د دې تفاهم‌نامې له مخې، د کورډ ایډ موسسه به د ۴۳۷,۶۸۲ امریکایی ډالرو په ارزښت، د هرات ولایت د فارسی ولسوالۍ ۱۰۳۰ کورنیو هرې یوې ته ۲۷۴ امریکایی ډالر او همداراز، پنځه تختې (یوه دوه‌کسیزه او څلور یوکسیزې) کمپلې د ۵۷ ډالرو په ارزښت ووېشی.

درېیمه تفاهم‌نامه:

د دې تفاهم‌نامې له مخې، د کورډ ایډ موسسه به د ۱,۵۴۲,۸۰۴ ډالرو په ارزښت، د هرات ولایت رباط سنګی، ګذره، او پشتون زرغون ولسوالیو ۲۳۱۵ کورنیو هرې یوې ته ۱۶۱ امریکایی ډالر، ۳۰۰۰ کورنیو ته د ژمنیو جامو د پېرلو لپاره هرې کورنۍ ته ۷۷.۵۰ ډالر، ۵۰۰ کورنیو ته د باران او واورې پر وړاندې د کورونو د خوندیتوب لپاره هرې کورنۍ ته ۳۴۰ ډالر، ۳۳۹ کورنیو ته د کور کرایې ورکولو لپاره هرې کورنۍ ته ۱۷۹ ډالر، ۵۰۰ کورنیو ته د روغتیایی توکو پېرلو لپاره هرې کورنۍ ته ۱۱۵ ډالر، او ۱۷۲۲ کورنیو ته د روغتیایی توکو پېرلو لپاره هرې کورنۍ ته ۲۰ ډالر ووېشی.همداراز، د یادو ولسوالیو په کچه ۲۰۰ تشنابونه به هم بیا ورغول شی.

# ترمنځ د ګډو همکاریو په اړه (WFP) له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د خوراک نړیوال سازمان تخنیکی غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د خوراک نړیوال سازمان ترمنځ د ګډو همکاریو په اړه د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۷ نېټه تخنیکی غونډه، د یادې ادارې د کارکوونکو چارو رئیس؛ الحاج مولوی محمد عابد نعمانی، د پلان او پالیسۍ رئیس؛ ملا محمد جاوید عباس، د نړیوالو اړیکو د ریاست سرپرست؛ برهان‌الدین خان، د خوراک نړیوال سازمان د اړیکو مسؤل؛ اون شیورت، د بیړنیو چارو مسؤل؛ منصف‌الله انوری، د پلان جوړونې مسؤل؛ عبدالرزاق ایوبی، د بشری مرستو مسؤل؛ عبدالغفور نوابی او د دې ادارې یو شمېر آمرینو په شتون کې ترسره شوه.

په دې غونډه کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې تخنیکی پلاوی ټینګار وکړ، چې د خوراک نړیوال سازمان تل د افغانستان خلکو ته بشردوستانه مرستې رسولې دی، او له دې امله یې له یاد سازمان څخه مننه وکړه او غوښتنه یې وکړه چې دغه مرستې باید دوام ومومی او پراخې شی.

یاد پلاوی د خوراک نړیوال سازمان څخه وغوښتل چې د روزنیزو پروګرامونو ترسره کولو او د دې ادارې د دفترونو لپاره د تجهیزاتو برابرولو په برخه کې همکاری وکړی.

په ورته وخت کې، د خوراک نړیوال سازمان تخنیکی پلاوی، د دې ادارې له همکاریو مننه وکړه او ویې ویل چې د خوراک نړیوال سازمان تل هڅه کوی چې د افغانستان خلکو ته غوره خدمات وړاندې کړی.

یاد پلاوی ټینګار وکړ چې دواړه لوری به د غوره خدمتونو وړاندې کولو او زیانمنو کورنیو ته د مرستو د رسولو بهیر د ګړندی کولو لپاره په ګډه کار وکړی. هغوی همداراز ژمنه وکړه چې د تجهیزاتو برابرولو او د روزنیزو پروګرامونو د تنظیم لپاره به له نورو ډونرانو سره خبرې وکړی.

وروسته د غونډې ګډونوالو د خپلو فعالیتونو او لاسته راوړنو مفصل راپورونه وړاندې کړل او د بشری مرستو په برخه کې د دوامداره همغږۍ او همکارۍ پر اړتیا یې ټینګار وکړ.

په پای کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست، الحاج ملا نورالدین ترابی په غونډه کې ګډون وکړ او ویې ویل چې موږ تل هڅه کوو چې له بېلابېلو مرستندویه سازمانونو او بنسټونو سره خپلې همکارۍ لا پراخې کړو. نوموړی د خوراک نړیوال سازمان څخه وغوښتل چې خپلې مرستې د دې ادارې له لارې ترسره کړی، ترڅو د مرستو د وېش بهیر لا اغېزناک شی.

# له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سرپرست د بېړنۍ سرپناه او غیرخوراکي مرستو د کلستر له پلاوي سره وکتل




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدين ترابي، د IOM دفتر د کلستر همغږی کوونکې ساوسن سعد، د UNHCR دفتر د کلستر همغږی کوونکې آريرين موتيف، او د IOM دفتر د کلستر مرستيال محمد هاشم نيازی سره د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۷ نېټه په کاری دفتر کې وکتل او خبرې وکړې.

په دې ناسته کې، ترابي صاحب د کلستر پلاوی ته ښه راغلاست ووېل او څرګنده یې کړه چې طبیعی پېښې هر کال خلکو ته د پام وړ مالی او ځانی زیانونه اړوی، او د دې پېښو د خطرونو د کمولو لپاره د وقایوی پروژو پلی کول ډېر اړین دی.

نوموړی زیاته کړه چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداره د خپلو مسئولیتونو پر بنسټ، د پېښې په بېلابېلو پړاوونو کې چې وقایه، چمتووالی، رسپدنه، او بیا رغونه پکې شامل دی، زیانمنو ته مرستې رسوی. هغه د یادو کلسترونو له استازو وغوښتل چې په ټولو یادو پړاوونو کې همکاری وکړی.

د ادارې سرپرست همداراز د کلستر سره پر همغږۍ او د همکاریو پر پراخولو ټینګار وکړ او ډاډ یې ورکړ چې دا اداره به د کلستر سره په ټولو برخو کې لازمې همکارۍ وکړی.

ورپسې، آريرين موتيف د UNHCR دفتر د کلستر همغږې کوونکې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست له همکاریو مننه وکړه او ویې ویل چې کلستر په بېړنیو حالاتو کې بشری مرستو، د کورونو پر ترمیم او بیا رغونې تمرکز لری. هغه د امریکا د نړیوالې پراختیا ادارې (USAID) له لوری د بشری مرستو د بندېدو له امله رامنځته شویو ستونزو ته هم اشاره وکړه.

په همدې حال کې، ساوسن سعد دIOM دفتر د کلستر همغږې کوونکې، د ۲۰۲۵ کال لپاره د کلستر د پروګرامونو د چمتووالی، اړتیاوو، سرچینو، او زیانمنو ته د مرستو رسولو پر څرنګوالی خبرې وکړې. نوموړې وویل چې یاد پلان د ملګرو ملتونو د معیارونو او ترسره شویو ارزونو پر بنسټ ترتیب شوی او په ۲۰۲۵ کال کې به پلی شی.

میرمن سعد همداراز د پسرلی سېلابونو د خطرونو یادونه وکړه او وویل چې بشری مرستې په ستراتیژیکو ګدامونو کې زېرمه شوې دی، ترڅو د بېړنیو حالاتو پر مهال زیانمنو ته ووېشل شی.

په پای کې، دواړو لوریو د پېښو د مدیریت په برخه کې د همغږۍ او ګډ کار پر ارزښت ټینګار وکړ او هوکړه یې وکړه چې د افغانستان په کچه د ټولو فعالو کلسترونو له استازو جوړ یو ګډ کاری ګروپ به جوړ کړی.

## ورستیو سېلاب ځپلو ته د کومک رسېدنې په موخه بېړنۍ غونډه ترسره شوه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی دهیواد په کچه دملی او نړیوالو اړونده موسسو مسولین او استازی دعاجلی بیړنی غونډی لپاره راوغوښتل او د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نیټه په خپل کاری دفتر کی یې بیړنی غونده دائره کړل. په غونډه کې د UN-OCHA ،WFP، UNICEF، IHH، ECHO، IOM او د ES-NFI سازمانونو استازو، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس، د بیړنیو حالاتو رئیس او د نړیوالو اړیکو سرپرست ګډون درلود.

په دې ناسته کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی د ملی او نړیوالو موسسو او د ملګرو ملتونو سازمانونو له بشری مرستو څخه مننه وکړه او زیاته یې کړه، چې وروستیو سېلابونو د ټول هیواد په کچه په اکثرو ولایتونو کی خصوصاً په ۱۳ ولایتونو کې زیات مالی او ځانی زیانونه اړولی دی، نو له همدې امله یی د ټولو بنسټونو څخه غوښتنه وکړل چی دسیلاب ځپلو سره په ۷۲ ساعته کی دننه دننه تاسو دخپلو امکاناتو سره سم دسیلاب ځپلو سره اړین کومکونه وکړی.

همداراز ترابی صاحب د مرستو د ښه مدیریت او د شفافیت د رامنځته کولو په منظور ، د دې ادارې او د نړیوالو موسسو ترمنځ د همغږۍ د زیاتوالی پر اړتیا ټینګار وکړی.

ورپسې، د UNICEF، IHH، ECHO، IOM، WFP، UN-OCHA او د ES-NFI سازمانونو استازو ترابی صاحب ته د، خوراکی، غیر خوراکی ، روغتایی او لنډمهاله سرپناه مرستو د چمتوالۍ ډاډ ورکړ. هغوی وویل چې سېلاب ځپلو ته به د مرستو رسولو هڅې د کاری لومړیتوبونو په سر کې وی. او دامکان په صورت کی به په ۷۲ ساعته کی دننه خپل کومکونه ورسوو.

د غونډې په پای کې، د سېلاب ځپلو سره د ستونزو پر بیړنی حل کولو باندی ټینکار وسو.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې اوونیزه اداری غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې اوونیزه اداری غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابی په مشرۍ او د مرکزی رئیسانو په ګډون د دې ادارې د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نیټه په انګړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجنډا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجنډا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

## د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اداري ودانۍ لپاره د بنسټ ډبره کېښودل شوه



د خوست ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اداري ودانۍ د جوړولو کار, د یاد ولایت مرستیال والي الحاج مولوی محبوب شاه قانت, د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس محترم مولوی دوست محمد هلال, له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د تدارکاتو آمر مولوی احمد شاه ذهین, د یادې اداري تخنیکی ټیم او یو شمېر نورو قومی مشرانو او د سیمو د خلکو په شتون د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نیټه کې پیل شو.

په همدې مناسبت جوړه شوې غونډه کې, د خوست مرستیال والي الحاج مولوی محبوب شاه قانت په خپلو خبرو کې د دې پروژې د پیل په برخه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست هڅې وستایلې او ویې ویل چې, دا پروژه د ټولنې د پرمختګ لپاره یو مهم ګام دی او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري په بودجه به د ۱۳ میلیونه افغانیو په ارزښت بشپړه شي. همدارنګه نوموړی د اسلامی امارت او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري له مشرتابه څخه د دې پروژې په پار مننه وکړه او ژمنه یې وکړه چې د دې پروژې له چارو څخه به د معیارونو سره سم جوړېدو لپاره په دوامداره توګه څارنه وکړي.

ورپسې, له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د تدارکاتو آمر مولوی احمدشاه ذهین خبرې وکړې او د یادې پروژې په اړه یې معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې دا پروژه به د شپږو میاشتو په موده کې بشپړه شي.

نوموړی زیاته کړه, چې یاده ودانۍ به درې پوړه ولری، لومړی پوړ به یې ۶ اطاقه دفترونه وی او دویم پوړ به یی هم ۶ خونې ولری، او ټولې برخې به یې په خپل وخت بشپړې شي او یوه برخه به د خوراکی او غیرخوراکی توکو د خوندی ساتلو لپاره به یو لوی او معیاری ګدام ولری او دا توکی به پکې خوندی ساتل کیږی, چې ټولټال به د ۳۶۴ متر مربع په ځمکه کې د ۲۶ په ۱۴ متره په اړخونو سره دا ودانۍ جوړه شی, او دا ودانۍ به ۱۲ اطاقه دفترونه ولری.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري هیئت ۵ تنه مرکزی کارمندانو د ترابی صاحب په هدایت د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنې او ارزونې په موخه د دوو ورځو په موده کی کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري ۵ کسیز هیئت چې د څارنې او ارزونې ریاست څخه د ارزونې امر، د خطر د مخینوی او کمولو ریاست څخه دپېښو د خطرونو کمولو کار پوه، د بیړنیو حالتو د ریاست څخه د اسنادو د ثبت مدیر، د کارکونکو د چارو ریاست څخه د پلان جوړنې مدیر او دنشراتو او عامه اړیکو ریاست څخه د کلیپونو جوړولو او عامه پوهاوی مدیر د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختګ په موخه د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۳ نیټه کتنه وکړه.

دا څارنه او ارزونه چې شاوخوا یو اونۍ مخکی د ترابی صاحب په هدایت ۳۳ ولایتونو څخه شروع شوې ده  د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز هیئت لیږل سوی دی  چې و به وکولای سی چې د ولایتی ریاستونو په کارونو کی  به پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولی او ټول کارمندان  به د خپلو لایحو او کاری پلانونو مطابق کارو ته متوجې کړی تر څو  اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړی.

جنوب غرب زون ته استول شوی ۵ کسیز هیئت وایې چې  موږ د ددو ورځو په موده کی د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارز آمادګۍ ریاست د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو، ګدام او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاری پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته مو سپارښتنه وکړه چې خپل کارونه پر وخت خلاص کړی او د ټولو شعباتاتو مخ ته لوحې نصب شوې نومونه یې پر ولیکل او د ټولو شعباتو پر دروازو لوګوګانی ونښلول شوې او ټولو کارمندانو ته توصیه وشوه چې  هغه اسنادونه د ځان سره وساتی چې د مرکزی اداري څخه ورته راځی.

# د څارنې او ارزونې مرکزی پلاوی د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له ریاست څخه څارنه وکړه




د څارنې او ارزونې مرکزی پلاوی، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه, د یادې ادارې د ولایتی ریاستونو د چارو څخه د کتنې او څېړنې په موخه یې شمال او شمال ختیځ زون ته سفر کړی، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۴ نیټه کندز ولایت ته ورسېد

یاد پنځه کسیز پلاوی، چې د زلزلې کارپوه، د NDMIS عمومی مدیر، د پالیسیو او پروګرامونو د تطبیق د څارنې کارپوه، د اطلاعاتو عمومی مدیر او د HRMIS مسلکی غړی پکښې شامل وو، د څارنې او لارښوودنې له لارې یې د یاد ریاست د کاری بهیر د ښه والی په موخه کندز ولایت ته سفر وکړ.

لومړی یاد پلاوی د دی ریاست له رئیس او کارکوونکو سره غونډه وکړه. او د خپل کار موخه یې بیان کړه او ویې ویل، چې د ادارې د سرپرست په لارښوونه مکلف دی ترڅو د دی ریاست له کاری بهیر څخه څارنه وکړی او د اداری چارو د ښه والی او خلکو ته غوره خدمتونو وړاندې کولو په موخه هغوی ته لارښوودنه وکړی.

ورته مهال له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس محترم شفیق الله جواد د قرآن کریم د مبارکو آیتونو او د نبوی احادیثو په رڼا کې خبرې وکړه او ویې ویل چې د راغلی پلاوی سره به همکاری وکړی.

د یادونی وړ ده چې، دی ټیم تېره ورځ د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څېړنه وکړه، او همداراز په پام کې ده چې دا بهیر په شمال ختیځ ولایتونو کې له بشپړېدو وروسته، په شمالی ولایتونو کې هم د دې پلاوی او د هېواد په نورو زونونو کې د شپږو نورو ټیمونو له لوری پلی شی.

د څارنې او ارزونې مرکزی پلاوی د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ له ریاست څخه څارنه وکړه

د څارنې او ارزونې مرکزی پلاوی، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه, د یادې ادارې د ولایتی ریاستونو د چارو څخه د کتنې او څېړنې په موخه یې شمال او شمال ختیځ زون ته سفر کړی، د جمعه په ورځ کندز ولایت ته ورسېد

یاد پنځه کسیز پلاوی، چې د زلزلې کارپوه، د NDMIS عمومی مدیر، د پالیسیو او پروګرامونو د تطبیق د څارنې کارپوه، د اطلاعاتو عمومی مدیر او د HRMIS مسلکی غړی پکښې شامل وو، د څارنې او لارښوودنې له لارې یې د یاد ریاست د کاری بهیر د ښه والی په موخه کندز ولایت ته سفر وکړ.

لومړی یاد پلاوی د دی ریاست له رئیس او کارکوونکو سره غونډه وکړه. او د خپل کار موخه یې بیان کړه او ویې ویل، چې د ادارې د سرپرست په لارښوونه مکلف دی ترڅو د دی ریاست له کاری بهیر څخه څارنه وکړی او د اداری چارو د ښه والی او خلکو ته غوره خدمتونو وړاندې کولو په موخه هغوی ته لارښوودنه وکړی.

ورته مهال له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس محترم شفیق الله جواد د قرآن کریم د مبارکو آیتونو او د نبوی احادیثو په رڼا کې خبرې وکړه او ویې ویل چې د راغلی پلاوی سره به همکاری وکړی.

د یادونی وړ ده چې، دی ټیم تېره ورځ د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څېړنه وکړه، او همداراز په پام کې ده چې دا بهیر په شمال ختیځ ولایتونو کې له بشپړېدو وروسته، په شمالی ولایتونو کې هم د دې پلاوی او د هېواد په نورو زونونو کې د شپږو نورو ټیمونو له لوری پلی شی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې د کارکوونکو ۵ کسیز مرکزي پلاوي د ترابی صاحب په لارښوونه د میدان وردگ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست څخه د څارنې او ارزونې په موخه د دوو ورځو په موده کې کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی ادارې ۵ کسیز پلاوی چې د ارزونې او زیانونو آمر، پېښو ته د رسېدنې د فعالیتونو د ارزونې کارپوه، د استخدام عمومی مدیر او د نشراتو مدیر پکې شتون لرلو د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختگ په موخه د میدان وردگ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ریاست څخه د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۴ نیټه کتنه وکړه.

دا څارنه او ارزونه چې شاوخوا یوه اونۍ مخکې د ترابی صاحب په لارښوونه ۳۳ ولایتونو څخه شروع شوې ده  د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز پلاوی استول شوی دی، چې و به کولای شی چې د ولایتی ریاستونو په کارونو کی  به پوره شفافیت، پرمختگ او چټکتیا راولی او ټول کارمندان  به د خپلو لایحو او کاری پلانونو مطابق خپلو کارونو ته متوجې کړی تر څو  اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وړاندې کړی.
مرکزی زون ته استول شوی ۵ کسیز پلاوی وایې چې  موږ د دوو ورځو په موده کې د میدان وردگ ولایت له پېښو سره د مبارز آمادگۍ ریاست د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاری پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته مو سپارښتنه وکړه چی خپل کارونه پر وخت خلاص کړی او همدارنگه د ټولو شعباتو مخې ته لوحې نصب شوې نومونه پرې ولیکل او د ټولو شعباتو پر دروازو لوگوگانی ونښلول شوې او ټولو کارمندانو ته توصیه وشوه چی  هغه اسنادونه د ځان سره وساتی چی د مرکزی ادارې څخه ورته راځی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې مرکزی پلاوی ۵ تنه مرکزی کارکوونکی د ترابی صاحب په لارښوونه د مشرقی زون د نورستان، کنړ، ننگرهار او لغمان ولایتونوڅخه د څارنې او ارزونې په موخه او ټولۍ چارې یې وکتلې



له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملی ادارې ۵ کسیز پلاوی چې د څارنې او ارزونې ریاست څخه د ارزونې کارپوه، د پیښو د خطرونو د مخنیوی او کمولو ریاست څخه دتحلیل او ارزونې کارپوه، د بیړینو حالاتو د ریاست څخه د NDMIS آمر، د کارکونکو د چارو ریاست څخه اجرائیه مدیر او د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست څخه د ډیزاین او ایډیټ مدیر د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختگ په موخه د  دمشرقی زون دیادو ولایتونو څخه کتنه وکړه.

 د ۳۳ ولایتونو د څارنې او ارزونې دا لړۍ چی شاوخوا یوه اونۍ مخکې د ترابی صاحب په لارښوونه پیل شوې، د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز پلاوی لیږل شوی دی، چی و به وکولای سی چی د ولایتی ریاستونو په کارونو کی بشپړ شفافیت، پرمختگ او چټکتیا رامنځته کړی او ټول کارمندان به د خپلو لایحو او کاری پلانونو سره سم کار کولو ته اړ کړی تر څو د اولس لپاره غوره او پر وخت خدمتونه ترسره کړی.
مشرقی زون ته استول شوی ۵ کسیز پلاوی   دیادو ولایتونو د یادو ولایتونودفترونه، کارونه، دوسیی، گدامونه، ادارې او نشراتی اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارکوونکو څخه یې د دندو د لایحو او کاری پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته یی سپارښتنی وکړی چی خپل کارونه پر وخت خلاص کړی.
همدارنگه، د ټولو دفترونو مخ ته لوحې نصب شوې د هر بست عنوان پر ولیکل شو او د ټولو دفترونو پر دروازو لوگوی نصب شوې او ټولو کارکوونکو ته توصیی وسلوی چې د مرکزی ادارې څخه د استول شویو  ټولوحکمونو څخه په ښه توگه استفاده وکړی او د چارو د پر مخ وړلو لپاره گټه ورځخه واخلی.

## له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې هیئت ۵ تنه مرکزي کارمندانو د ترابی صاحب په هدایت د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنې او ارزونې په موخه د دوو ورځو په موده کې کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ۵ کسیز هیئت چې د څارنې او ارزونې ریاست څخه د ارزونې امر، د خطر د مخنیوی او کمولو ریاست څخه دپېښو د خطرونو کمولو کار پوه، د بیړنیو حالتو د ریاست څخه د اسنادو د ثبت مدیر، د کارکونکو د چارو ریاست څخه د پلان جوړنې مدیر او دنشراتو او عامه اړیکو ریاست څخه د کلیپونو جوړولو او عامه پوهاوی مدیر د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختګ په موخه د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۶ نیټه کتنه وکړه.

دا څارنه او ارزونه چې شاوخوا یو اونۍ مخکې د ترابی صاحب په هدایت ۳۳ ولایتونو ته شروع شوې ده د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز هیئت لیږل سوی دی چې و به وکولای سی چې د ولایتی ریاستونو په کارونو کې پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولې او ټول کارمندان به د خپلو لایحو او کاری پلانونو مطابق کارو ته متوجې کړی تر څو اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړی.

نو جنوب غرب زون ته استول شوی ۵ کسیز هیئت وایې چې موږ د ددو ورځو په موده کې د هلمند ولایت له پېښو سره د مبارز آمادګۍ ریاست د ټولو شعباتو، دکارونو، دوسیو، ګدام او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاری پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته مو سپارښتنه وکړه چې خپل کارونه پر وخت خلاص کړی او د ټولو شعباتاتو مخ ته لوحې نصب شوې نومونه یې پر ولیکل او د ټولو شعباتو پر دروازو لوګوګانې ونښلول شوې او ټولو کارمندانو ته توصیه وشوه چې هغه اسنادونه د ځان سره وساتی چې د مرکزی ادارې څخه درته راځی.

---

## له پېښو سره د مبارزې ملي ادارې د کارکوونکو ۵ کسیز مرکزی پلاوی د ترابی صاحب په لارښوونه بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنې او ارزونې په موخه کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ۵ کسیز پلاوی چې د ارزونې او زیانونو آمر، پېښو ته د رسېدنې د فعالیتونو د ارزونې کارپوه، د استخدام عمومی مدیر او د نشراتو مدیر پکې شتون لرلو د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختګ په موخه د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه کتنه وکړه.

دا څارنه او ارزونه چې نږدې دوه اونۍ کیږی مخکې د ترابی صاحب په لارښوونه ۳۳ ولایتونو څخه شروع شوې ده د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز پلاوی استول شوی دی، چې و به کولای شی چې د ولایتی ریاستونو په کارونو کې به پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولې او ټول کارمندان به د خپلو لایحو او کاری پلانونو مطابق خپلو کارونو ته متوجې کړی تر څو اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وړاندې کړی.

مرکزی زون ته استول شوی ۵ کسیز پلاوی وایې چې موږ د د بامیان ولایت له پېښو سره د مبارز آمادګۍ ریاست د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاری پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته مو سپارښتنه وکړه چې خپل کارونه پر وخت خلاص کړی او همدارنګه د ټولو شعباتو مخې ته لوحې نصب شوې نومونه پرې ولیکل او د ټولو شعباتو پر دروازو لوګوګانې ونښلول شوې او ټولو کارمندانو ته توصیه وشوه چې هغه اسنادونه د ځان سره وساتی چې د مرکزی ادارې څخه ورته راځی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې هیئت ۵ تنه مرکزی کارمندانو د ترابی صاحب په هدایت د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنې او ارزونې په موخه د دوو ورځو په موده کی کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې ۵ کسیز هیئت چې د څارنې او ارزونې ریاست څخه د ارزونی امر، د خطر د مخینوی او کمولو ریاست څخه دپېښو د خطرونو کمولو کار پوه، د بیړینو حالتو د ریاست څخه د اسنادو د ثبت مدیر، د کارکونکو د چارو ریاست څخه د پلان جوړنې مدیر او دنشراتو او عامه اړیکو ریاست څخه د کلیپونو جوړولو او عامه پوهاوی مدیر د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختګ په موخه د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۹ نیټه کتنه وکړه.

دا څارنه او ارزونه چې څو ورځې وړاندی د ترابی صاحب په هدایت ۳۳ ولایتونو څخه شروع شوې ده د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز هیئت لیږل سوی دی چې و به وکولای سی چې د ولایتي ریاستونو په کارونو کی به پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولی او ټول کارمندان به د خپلو لایحو او کاری پلانونو مطابق کارو ته متوجې کړی تر څو اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړی.

جنوب غرب زون ته ته استول شوی ۵ کسیز هیئت وایې چې موږ د ددو ورځو په موده کی د نیمروز ولایت له پېښو سره د مبارز آمادګۍ ریاست د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو، ګدام او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاری پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته مو سپارښتنه وکړه چې خپل کارونه پر وخت خلاص کړی او د ټولو شعباتاتو مخ ته لوحې نصب شوې نومونه یې پر ولیکل او د ټولو شعباتو پر دروازو لوګوګانې ونښلول شوې او ټولو کارمندانو ته توصیه وشوه چې هغه اسنادونه د ځان سره وساتی چې د مرکزی ادارې څخه ورته راځی.

## د څارنې او ارزونې مرکزی پلاوی د تخار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه کتنه وکړه



د څارنې او ارزونې مرکزی پلاوی، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست په لارښوونه, د څارنې, ارزونې او لارښوودنې په موخه یې شمال او شمال ختیځ زون ته سفر کړی، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۳ نیټه له بدخشان وروسته تخار ولایت ته ورسېد او د دې ریاست د چارو هر اړخیزه څېړنه یې وکړه.

یاد پنځه کسیز پلاوی، چې د څارنې او ارزونې، د کارکوونکو چارو، وقایې او د خطرونو کمولو، بیړنیو حالاتو او د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاستونو استازی پکې شامل وو، لومړۍ د دی ریاست له رئیس او کارکوونکو سره غونډه وکړه. او د خپل کار موخه یې بیان کړه او ویې ویل، چې د ادارې د سرپرست په لارښوونه، د دې ریاست له چارو څارنه او ارزونه کوی، تر څو د خدمتونو د وړاندې کولو په بهیر کې ښه والی راشی.

ورپسې، یاد پلاوی په خپلو اړوندو برخو کې کارونه پیل کړل. دوی د دی ریاست نیمګړتیاوې او ستونزې یادداشت کړې، او همداراز اړینې سپارښتنې او لارښوونې یې هم وړاندې کړې.

د یادونې وړ ده، چې دغه پلاوی تر دې وړاندې د بغلان او بدخشان له ولایتونو هم لیدنه کړې وه او پلان لری، چې د شمال او شمال ختیځ نورو ولایتونو ته هم سفر وکړی.

## له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې هیئت ۵ تنه مرکزي کارمندانو د ترابي صاحب په هدایت د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د څارنې او ارزونې په موخه د دوو ورځو په موده کې کتنه وکړه



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې ۵ کسیز هیئت چې د څارنې او ارزونې ریاست څخه د ارزونې کارپوه، د پېښو د خطرونو د تحلیل او ارزونې کارپوه، د بیړنیو حالتو د ریاست څخه د NDMIS آمر، د کارکونکو د چارو ریاست څخه د اجرائیه مدیر او دنشراتو او عامه اړیکو ریاست څخه د دیزاین او ایډیټ مدیر د څارنې او ارزونې، د کارونو د لا شفافیت او پرمختګ په موخه د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نیټه کتنه وکړه.
دا څارنه او ارزونه چې شاوخوا یو اونۍ مخکې د ترابي صاحب په هدایت ۳۳ ولایتونو څخه شروع شوې ده د زونونو په حساب هر زون ته ۵ کسیز هیئت لیږل سوی دی چې و به وکولای سی چې د ولایتي ریاستونو په کارونو کې به پوره شفافیت، پرمختګ او چټکتیا راولي او ټول کارمندان به د خپلو لایحو او کاري پلانونو مطابق کارو ته متوجې کړي تر څو اولس ته غوره او پر وخت خدمتونه وکړي.
جنوبي زون ته استول شوی ۵ کسیز هیئت وایې چې موږ د دوو ورځو په موده کې د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارز آمادګۍ ریاست د ټولو شعباتو، کارونو، دوسیو، ګدام او اسنادو څخه څارنه وکړه او د ټولو کارمندانو څخه مو د دندو د لایحو او کاري پلان پوښتنه وکړه او ټولو ته مو سپارښتنه وکړه چې خپل کارونه پر وخت خلاص کړي او د ټولو شعباتاتو مخ ته لوحې نصب شوې نومونه یې پر ولیکل او د ټولو شعباتو پر دروازو لوګوګانې ونښلول شوې او ټولو کارمندانو ته توصیه وشوه چې هغه اسنادونه د ځان سره وساتي چې د مرکزي ادارې څخه ورته راځي.

## د څارنې او ارزونې مرکزي پلاوی د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د ریاست له چارو څارنه وکړه



د څارنې او ارزونې مرکزي پلاوی، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د سرپرست په لارښوونه، د یادې ادارې د ولایتي ریاستونو د کړنو څخه د لیدنې او څېړنې په موخه یې شمال او شمال ختیځ زون ته د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۹ نیټه سفر کړی، د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له چارو یې څارنه وکړه.
دغه پنځه کسیز پلاوی، چې د زلزلې کارپوه، د NDMIS عمومي مدیر، د پالیسیو او پروګرامونو د پلې کېدو د څارنې کارپوه، د اطلاعاتو عمومي مدیر او د HRMIS مسلکي غړی پکې شتون درلود، د څارنې او لارښوونې له لارې یې د یاد ریاست د کاري بهیر د ښه والي په موخه له سرپل ولایت وروسته بلخ ولایت ته سفر وکړ.
یاد پلاوي لومړی له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رییس مولوي بشیر احمد آغا بشرانی سره وکتل او د خپل سفر موخه یې ورته بیان کړه او ویې ویل چې د ادارې د سرپرست په لارښوونه او د خدماتو د وړاندې کولو د بهیر د ښه والي لپاره راغلی دی.
یاد پلاوي وایي، چې د یوې ورځې په موده کې یې د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ټولو دفترونو، فعالیتونو، دوسیو، ګدام او اسنادونو څخه څارنه وکړه او له ټولو کارکوونکو څخه یې د هغوی د کاري پلانونو او د دندو د لایحو په اړه معلومات وغوښتل او هغوی ته یې توصیه وکړه چې خپل کارونه پر وخت سره ترسره کړي.
د یادونې وړ ده، چې دې ټیم په تېرو ورځو کې د بغلان، کندز، تخار، بدخشان، جوزجان، فاریاب او سرپل ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ د ریاستونو څېړنه وکړه، او همداراز په پلان کې ده چې دا لړۍ په ټولو شمالي ولایتونو کې هم د دې پلاوي او د هېواد په نورو زونونو کې د شپږو نورو ټیمونو له لوري پلې شي.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۸ کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې



د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد ولایت مقام په لارښوونه, ۸۸ زیانمنو او اړمنو کورنیو ته په مرکز ګردېز ښار کې له سروې وروسته خوراکي او غیرخوراکي مرستې د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۳ نیټه ووېشلې.
په دې لړۍ کې د سیمه ییزو مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو وریجې او یو هایجن کېټ ووېشل شو.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۵۶ کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې

د IRC او د ورلډویژن موسسو سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له لورې د لاسلیک شویو هوکړه لیکونو له مخې، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادو موسسو په مالي ملاتړ، په مقر او سنګ آتش ولسوالیو کې ۹۵۶ اړمنو کورنیو ته له سروې وروسته نغدي مرستې د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۳ نیټه ووېشلې.
په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې د IRC موسسې له لورې په مقر ولسوالۍ کې ۴۸۵ کورنیو هرې یوې ته ۲,۹۰۰ افغانۍ او د ورلډویژن موسسې له لورې په سنګ آتش ولسوالۍ کې ۲۴۱ کورنیو هرې یوې ته ۶,۱۰۴ افغانۍ نغدي پیسې ووېشل شوې، چې ټولټال د ۹۵۶ کورنیو لپاره ۴,۳۴۲,۵۲۴ (۴ میلیونه، ۳۴۲ زره او ۵۲۴) افغانۍ نغدي پیسې په پام کې نیول شوې وې.




## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز مبلغ ۴,۵۰۴,۰۸۰ افغانی را برای ۱۵۳۲ خانواده توزیع نمود

بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه ARWEO، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کندز با حمایت مالی مؤسسه متذکره، بتاریخ ۲۴ شعبان سال ۱۴۴۶ ه ق برای ۱۵۳۲ خانواده در ولسوالی چهاردره مساعدت نقدی توزیع کرد.
در این پروسه قسط چهارم کمک‌ها برای هر خانواده مبلغ ۲۹۴۰ افغانی در حضور مسوولان توزیع شد که در مجموع مبلغ ۴,۵۰۴,۰۸۰ افغانی برای آنان اختصاص یافته بود.



## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۸۷ کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې.



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او IRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک پر بنسټ، د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی مرسته، د دې ولایت د روحانی بابا ولسوالۍ ۲۸۷ کورنیو ته نغدی مرستې د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۳ نیټه ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د یادو مرستو د پنځم پړاو ۲,۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې په ټوله کې د دې کورنیو لپاره ۸۳۲,۳۰۰ (۸۳۲ زره او ۳۰۰) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان برای ۵۴۵ خانواده نیازمند مساعدت نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه اسلامیک ریلیف، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بامیان با حمایت مالی مؤسسه متذکره، بعد از سروی بتاریخ ۲۴ شعبان سال ۱۴۴۶ ه ق برای ۵۴۵ خانواده مستحق و نیازمند در مرکز آن‌ولایت مساعدت نقدی توزیع نمود.

در این پروسه تحت عنوان کمک‌های رمضانی به هر خانواده مبلغ ۴۹۰۰ افغانی پول نقد توزیع گردید که در مجموع مبلغ ۲،۶۷۰،۵۰۰ افغانی برای آنان اختصاص یافته بود.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۳۰ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او ژغونې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۵ نیټه ۲۳۰ بېوزله کورنیو ته د یاد ولایت په سره رود ولسوالۍ کې د خوراکی توکو پېرلو لپاره نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته د پنځم قسط لپاره ۲,۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۶۶۷,۰۰۰ (۶۶۷ زره) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۶۱۷ کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د اسلامی هوساینې موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۵ نیټه د روداتو ولسوالۍ د کابل کمپ کلی اړوند ۶۱۷ بېوزله کورنیو ته د خوراکی توکو پېرلو لپاره نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۴,۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۳,۰۲۳,۳۰۰ ( ۳ میلیونه ۲۳ زره او ۳۰۰) افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره په پام کې نیول شوی وې.

## د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۳۷ اړمنو کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د IRC موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک پر بنسټ، د پکتیا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۶ نیټه د دې ولایت د جانی خیلو ولسوالۍ اړوند ۴۳۷ اړمنو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته له سروې وروسته ۵,۸۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره ۲,۵۳٤,٦۰۰ ( ۲ میلیونه، ۵۳٤ زره او ٦۰۰ ) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

د یادونې وړ ده، چې یادې مرستې د دې کورنیو لپاره د پنځم او شپږم پړاو مرستې وې، چې د مسؤلینو په شتون کې ورته ووېشل شوې.

## مصون‌سازی ساحات آسیب‌پذیر در برابر خطرات احتمالی آب‌خیزی و سیلاب‌های ناگهانی در پنجشیر



ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر بتاریخ ۲۴ شعبان سال ۱۴۴۶ ه ق با همکاری اهالی قریه‌های درخیل و قابضان، اقدام به پاک‌سازی مسیر دریای عمومی پنجشیر و سیل‌بر این قریه‌ها نمود. این مسیرها در پی سرازیر شدن سیلاب‌های سال جاری مسدود شده بودند.

ساحات مذکور، که به دلیل تجمع مواد رسوبی ناشی از سیلاب‌های اخیر در معرض تهدید سیلاب‌های احتمالی و طغیان دریای پنجشیر قرار داشتند، به صورت اضطراری توسط یک عراده اسکواتور پاک سازی گردیدند تا موقتاً از خطرات ناشی از طغیان در امان بمانند.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس مبلغ ۳,۹۰۳,۵۰۴ افغانی پول نقد را برای ۲۶۴ خانواده توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و موسسه انکشافی و اجتماعی رازی، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس با حمایت موسسه متذکره، برای ۲۶۴ خانواده در ولسوالی جوند کمک‌های نقدی بتاریخ ۲۵ شعبان سال ۱۴۴۶ ه ق توزیع نمود.

باید گفت که این کمک‌ها با حمایت موسسه هلپ جرمنی از طریق موسسه رازی به هر خانواده مبلغ ۱۴۷۸۶ افغانی توزیع گردید که در مجموع برای این خانواده‌ها مبلغ ۳,۹۰۳,۵۰۴ افغانی اختصاص یافته بود.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۴۹ زیانمنو شوو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د ohw موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی مرسته، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۶ نیټه د دې ولایت په علی آباد ولسوالۍ کې د وچکالۍ له امله ۲۴۹ زیانمنو شوو کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، د مرستو د درېم پړاو ۲,۹۵۱ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره ۷۳۴,۷۹۹ ( ۷۳٤ زره او ۷۹۹ ) افغانۍ په پام کې نیول شوې وې.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۸۹ کورنیو ته نغدی مرستې مرستې ووېشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د رازی موسسې ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۶ نیټه د یاد ولایت د بکواه، ګلستان، بالابلوک، پشترود، لاش جوین، خاکسفید، پشت کوه او شیب کوه ولسوالیو او مرکز اړوند ۱۴۸۹ بېوزله، مستحقو، کډوالو او راستنېدونکو کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې له یادې جملې ۷۳۹ کورنیو هرې یوې ته د ۲۰۰ ډالرو معادل افغانۍ او ۷۵۰ نورو کورنیو هرې یوې ته د ۱۵۰ ډالرو معادل افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال د ۲۶۰,۳۰۰ (۲۶۰ زره او ۳۰۰) ډالرو معادل افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره په پام کې نیول شوې وې.

## د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۲ زیانمنو شوو کورنیو ته د ګرځنده تشنابونو وسایلو مرستې ووېشلې



دکندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د اکټېډ موسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نېټه د یاد ولایت په دشت ارچې او خان آباد ولسوالیو کې ۴۲ زیانمنو شوو کورنیو ته د ګرځنده تشنابونو وسایلو مرستې ووېشلې.
باید ووېل شي، چې دا کورنۍ د یاد ریاست او موسسې د مسؤلینو په واسطه سروې شوې وې، چې وروسته له سروې هرې کورنۍ ته ۲٤ قلمه د ګرځنده تشنابونو وسایل ووېشل شول.

## د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۰۰ زیانمنونکو کورنیو ته د ماشومانو لپاره ژمنۍ البسې ووېشلې



د یونیسف سازمان سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې د سرپرست د همغږۍ پر بنسټ، د دایکندی ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یونیسف سازمان په ملاتړ، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نېټه د یاد ولایت په مرکز کې ۳۰۰ زیانمنونکو کورنیو ته د ماشومانو لپاره ژمنۍ البسې ووېشلې.
یادې مرستې د زیانمنونکو ماشومانو کورنیو ته ووېشل شوې، چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د یونیسف سازمان د مسؤلینو لخوا له سروې وروسته د دې مرستو لپاره مستحقې پېژندل شوی وې.

## ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل برای ۵۰۰ خانواده متضرر ۵.۷۶ میلیون افغانی کمک نقدی توزیع کرد



بر اساس تفاهم‌نامه‌ای امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه اکشن‌اید، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل با حمایت مالی این مؤسسه، کمک‌های نقدی را برای ۵۰۰ خانواده متضرر در ولسوالی ده‌سبز این ولایت بتاریخ ۲۸ شعبان سال ۱۴۴۶ ه ق توزیع کرد.
در این روند، پس از سروی در حضور مسئولان، به هر خانواده مبلغ ۱۱,۵۲۰ افغانی توزیع شد که در مجموع، ۵,۷۶۰,۰۰۰ (پنج میلیون و هفت‌صد و شصت هزار) افغانی برای این خانواده‌ها اختصاص یافته بود.

## د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۳ بېوزله کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی ادارې او د ژغونې نړیوالې کمېټې (IRC) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک له مخې، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نیټه د یاد ولایت د سره رود ولسوالۍ اړوند ۱۴۳ بېوزله کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، د پنځم پړاو ۲،۹۰۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۴۱۴،۷۰۰ ( ٤١٤زره او ۷۰۰ ) افغانۍ، د خوراکی توکو د برابرولو په موخه د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوی وې.

د یادونې ده، چې له دې کورنیو سره د نورو مرستو کول هم په پلان کې نیول شوې دی.

## د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۸۱۲ کورنیو ته نغدی مرستې وویشلې




له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ  ملی ادارې او د ژغورنې نړیوالې کمېټې ( IRC ) ترمنځ د لاسلیک شوی هوکړه لیک پر بنسټ، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې کمېټې په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نیټه د دې ولایت د مرکز اړوند  ۸۱۲ کورنیو ته له سروې وروسته نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې، ۵۸۰۰ افغانۍ د خوراکی توکو د برابرولو په موخه و وېشل شوې، چې ټولټال د یاد شمېر کورنیو لپاره ۴،۷۰۹،۶۰۰ ( ٤ میلیونه، ۷۰۹ زره او ۶۰۰ ) افغانۍ ځانګړې شوې وې.

## د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰ سېلاب ځپلو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې




د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د WFP,SAVE THE CHILDREN او د IOM سازمانونو په مالی ملاتړ، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نیټه د یاد ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې د وروستیو سېلابونو له امله ۱۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکی او غیرخوراکی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې د IOM سازمان لخوا هرې کورنۍ ته ۳ تختې کمپلې، د ببرنۍ سرپناه رغولو توکی، ۱ تخته فرش، ۲ سولری څراغونه او له یادې جملې ۲ کورنیو ته ۲ لویې خیمې، همدارنګه د WFP سازمان لخوا هرې کورنۍ ته ۲۰۰ کیلو اوړه، ۲۰ لیتره غوړی، ۲ کیلو مالګه، ۲۵ کیلو دال او د SAVE THE CHILDREN موسسې لخوا هرې کورنۍ ته ۱۰ قلمه توکی لرونکی روغتیایی کېټ، ۱۵ کلچې صابون، د اوبو ۱ سطل او ۵ مسالې ډبې ووېشل شول.

## د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰ کورنیو ته د کورونو د ترمیم په موخه نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو د مبارزې آمادګۍ ملی اداري او د اکټیډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نیټه د دې ولایت د صیاد ولسوالۍ اړوند په پنځو کلیو کې ۵۰ مستحقو کورنیو ته چې له وړاندې سروې اومستحقې پېژندل شوي وې، د کورونو د ترمیم په موخه د دریم پړاو لپاره مالی مرستې ووېشلې.

دغه کورنۍ چې له مخکې یې د لومړی او دوهم پړاو مرستې ترلاسه کړې وې، په دې پړاو کې هرې کورنۍ ته ۴,۲۹۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ورته ۲۱۴,۵۰۰ افغانۍ ووېشل شوې.

## د پنجشېر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د واورې ښویېدو له امله د شهیدانو ورثه او ټپیانو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست په لارښوونه, د بنجشېر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست, په دره ولسوالۍ کې د واورې ښویېدو له امله د ۴ شهیدانو ورثه او ۴ ټپیانو ته د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۹ نیټه نغدی مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې د هر شهید ورثه ته ۲۰,۰۰۰ افغانۍ او ۴ ټپیانو هر یو ته ۱۰,۰۰۰ افغانۍ نغدی پیسې ووېشل شوې.

## د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۵۰ د شهیدانو ورثه کورنیو ته نغدی مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملی اداري د سرپرست د حکم له مخې، د نورستان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، په دې ولایت کې د وروستیو طبیعی پېښو له امله د ۵۰ شهیدانو ورثه کورنیو ته د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۸ نیټه نغدی پیسی ووېشلې.

په دې لړۍ کې، هرې کورنۍ ته له سروې وروسته د مسؤلینو په شتون کې، ٤٠,٠٠٠ افغانۍ ووېشل شوې چې په ټوله کې د یاد شمېر کورنیو لپاره ۲,۰۰۰,۰۰۰ ( ۲ میلیونه) افغانۍ د لومړنیو توکو د برابرولو په موخه په پام کې نیول شوې وې.

د یادونې ده، چې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د یادو مرستو د ترلاسه کولو له امله، د عالیقدر او اړوند مسؤلینو څخه مننه او د نورو مرستو غوښتنه کړې.

## د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ریاست د وروستیو سېلابونو له امله د ۶۲ شهیدانو او ټپیانو کورنیو ته نغدي مرستې ووېشلې



له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ملی اداري د سرپرست په لارښوونه، د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې د آمادګۍ ریاست، د وروستیو سېلابونو له امله د ۲۴ شهیدانو او ۳۸ ټپیانو کورنیو ته د ۱۴۴۶ کال د شعبان ۲۹ نېټه نغدي مرستې ووېشلې.

په دې بهیر کې، د مسؤلینو په شتون کې، د هر شهید ورثه ته ۲۰,۰۰۰ افغانۍ او هر ټپي ته ۱۰,۰۰۰ افغانۍ نغدي مرسته ورکړل شوه، چې ټولټال ۸۶۰,۰۰۰ افغانۍ نغدي پیسې یاد شمېر زیانمنو ته ووېشل شوې.

## عامه پیغامونه :

17. د دې لپاره چې ستاسو په هستوګن ځایونو کې اورلګیدنه رامنځته نشي د ګازو د ډبو څخه په ډېر احتیاط او کاروا خلئ

18. د دې لپاره چې ستاسو په هستوګن ځایونو کې د بریښنا د شارټي له کبله اورلګیدنه رامنځته نشي په ډیر احتیاط بریښنا وکاروئ

19. د ودانیو جوړو په وخت کې د زلزلې خطر په نظر کې ونیسې څکه د زلزلباټکل هیڅوک نسي کولاۍ